وروسته به ولیدل شي سیروس د سردریا شاوخوا کې د ساکا د لوی ټبر د مساګیتا څانګې سره په جنګ کې له ۲۹ کلونو واکمنۍ نه وروسته ووژل شو(۱۲). د هخامنشي امپراتوری دوه پېړۍ دوام وکړ او د مقدونیې سکندر د څلورمې پېړۍ په دوهمې نیمایي کې هغه نسکوره کړه.

## اریایان او هند:

ویدي سرودونه، اوستا او مهابهاراته (د هندوانو لرغونی حماسي اثر) هغسې چې په اریایي دوره کې د نورو څیزونو په اړه معلومات ورکوي، د ټبرونو په اړه یې هم ورکوي. کهزاد د دغو ټبرونو په اړه اوږد بحث کړی دی، چې لنډیز یې دا دی(۱۷). د ویدي دورې یوه ډله ټبرونه په پنکه جانه یا د پنځو ټبرونو په نامه یادېده، چې ډېر مهم یې د بهاراته او پورو قومونه وو. بهاراته چې تر ټولو لوی قوم و د بېړیو پېړیو په بهیر کې د سینونو پر غاړه یون وکړ، ترڅو له مخزېږدي نه څوارلس سوه کاله دمخه له اباسین نه تېر شول. شاعرانو او روحانیانو یې د دغه اوږده لېږد په بهیر کې نظمونه ویېیل، چې د ویدا (پوهې کتاب) په سرودونو یادېږي. په دغو سرودونو کې جغرافیوي په تېره د سینونو نومونه د اریانه د هېواد دی. بهارتیانو او نورو قومونو د اباسین او د هغه د یوه مرستیال سین په غاړه د هراپا او موهنجه دارو ښارونه او اوسېدونکي درای ویدیان (**Draavidians**) لاندې کړل

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD

او هغــوی یــې داســا (**Dasa**) ونومــول چــې دغــه کلمــه د دووس پــه شــکل تراوســه هــم ویلــه کېــږي. لــه دوی ســره د اریایــانو جګــړې پــه ویــدي مــذهبي ســندرو کــې مهمــه موضوع ده.

پـه هـر حـال، اریایـان بیـا د پنجـاب او ګنګـا پـه هـوارو کـې د مهاباراتــه پــه نامــه یــو ســتر حماســي اثــر او نــور اثرونــه پــه سانســکرت ژبــه کــې جــوړ کــړ او د هنــدویزم پــه نامــه یــې یــوه نــوې ژونــد لاره غــوره کــړه، چــې د هغــې لــه مخــې یــې ټولنــه پــه څلــــــورو پوړونــــــو (**Caste**) وو یشــــــله: برهمنــــــــان (**Brahmans**)، کشــــــتریان (**Kashtariyas**)، ویشــــــیا (**Vaishyas**) او شــودرا (**Shudras**). دغــه پوړونــه یــا طبقــې پــه ترتیــب ســره پــه دینــي لارښــوونې، جنــګ، کرنــې او ښــکته چــارو وګومــارل شــوې. شــودرا یــې ناپــاک ګڼــل او هغــوی لــه دینــه منــع وو، چــې ویــدي ســرودونه ولــولي یــا واوري. دغــه طبقــې دغــومره ضــییقې ونیــولی شــوې، چــې د هــرې یــوې غــړی بــه تــر مــرګ پــورې د هغــې غــړی پــاتې وي. داســې هــم دغــو اریایــانو تــه تــور پــوټکي داســا د مریــانو حیثیــت لاره. پــه ټــولیز ډول دغــو اریایــانو د نــوي ټــولنیز او کــورني نظــام او داســې هــم د سانســکرت پــه تنظیمولــو ســره یــوه نــوې ژونــد لاره غــوره کــړه او خپــل نــوی هېــواد یــې بهاراتــه ورتــه ونومــوه. پــه واقــع کــې دوی د نــوي دیــن او کلتــور او نظــام پــه رامېنځ تــه کولو سره ځانونه له باختري اریایانو نه بېل کړل[۱۸].

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD